مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۹۸** (از ۲۱ الی ۲۸ حوت ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**په هېواد کې د "ملي پیوستون" د پروګرام ارزونه**

ملي پیوستون؛ له پيله تر پایه ........ ۴

آیا د "ملي پیوستون" موخې ترلاسه شوې؟ ........ ۵

پر هېواد د ملي پیوستون د پروژو اغېزې ........ ٦

## مقدمه

افغانستان له ۲۰۰۱ کال وړاندې د څو لسیزو جګړو له کبله په ډېرو برخو کې د نړۍ له وروسته پاتې هېوادونو ګڼل کېده، چې له همدې کبله د طالبانو د رژیم له ړنګېدو وروسته نوي حکومت او نړیوالو مرستندویانو یې د بیارغونې پروګرامونه پیل کړل، چې مهم یې د ملي پیوستون پروګرام و.

ملي پیوستون پروګرام په ۲۰۰۳ کال کې د نړیوالې ټولنې په مرسته پیل او په ۱۴ کلونو کې یې لسګونه زره پراختیایي پروژې پلې کړې. دغه پروګرام چې هغه مهال د اوسني ولسمشر اشرف غني له‌خوا طرحه شوی و، بېلابېلې موخې درلودې؛ خو دا چې ایا دا پروګرام خپلو موخو ته ورسېد کنه او تر دغه پروګرام لاندې د هېواد د بیارغونې په برخه کې څومره کار شوی، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې یې په اړه شننه او ارزونه لولئ.

# په هېواد کې د "ملي پیوستون" د پروګرام ارزونه




په روانه میاشت کې افغان حکومت په رسمي توګه د کلیو د پراختیا او بیارغونې د "ملي پیوستون" پروګرام له ۱۴ کلن فعالیت وروسته بند کړ او پرځای به یې د "ولسي تړون" پروګرام پلي شي. د افغانستان د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزیر نصیراحمد دراني په اند، د ولسي تړون پروګرام به هم د ملي پیوستون پر څېر بنسټیزې پروژې پلې کړي؛ خو دا ځل به یې ډېر ټینګار د کلیو او لرې پرتو سیمو په پرتله وروسته‌پاتې ښاري سیمو ته وي او ډېر ټینګار به یې هم پر روغتیا، ښوونې او روزنې او د څښاک اوبو په برخو کې وي.

دغه راز په تېره اوونۍ کې د کلیو د پراختیا، ښار او کور جوړونې، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونو د ۱۳۹۵ کال په تړاو خپل راپورونه وړاندې کړل. د دغو وزارتونو د ویندویانو په اند، په ۱۳۹۵ کال کې د کلیو د پراختیا وزارت په بېلابېلو سکتورونو لکه د پاکو اوبو برابرولو، اوبو لګولو، کرنې، روغتیا، ښوونې او روزنې، برېښنا او سړک جوړونې په برخو کې د ۳۴ ولایتونو په ۳۲٦ ولسوالیو، ٦۳۲٦ کلیو کې ۹۰۷۷ پراختیایي پروژې پلې کړې دي. په دغو پروژو تقریباً ۲۴۵,۲ ملیون ډالره لګښتونه راغلي او په لنډمهال کې یې تقریباً ۷۵۰ زره خلکو ته د کار

زمينه مساعده کړي. دغه راز د ښار او کور جوړونې وزارت هم د ۷۱٫٦ مليون ډالرو په لګښت ۴۴٦ پروژې او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت بيا ۹۰ پروژې پلې کړې دي[1].

دا چې ملي پيوستون څه ډول پروګرام و؟ آيا موخې يې ترلاسه شوې؟ او په ټوله کې دارنګه پروژې پر هېواد او اقتصادي وضعيت څه اغېزې ښندي؟ دلته پرې شننه کوو.

## ملي پيوستون؛ له پيله تر پايه

په افغانستان کې د طالبانو د نظام له ړنګېدو وروسته، د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د نوي سرمايه‌داري او ديموکراتيک نظام بنسټ کېښودل شو. دغه مهال افغانستان د روغتيا، زېربناو (سړک، برېښنا، ودانۍ او نور)، ښوونې او روزنې او يو شمېر نورو برخو کې د نړۍ يو له وروسته‌پاتې هېوادونو ګڼل کېده. پر نوي حکومت د خلکو د باور رامنځته‌کولو او د بې‌کارۍ له منځه‌وړلو په موخه د "ملي پيوستون" پروګرام په ۲۰۰۲ کال کې د اوسني ولسمشر اشرف غني له‌خوا طرحه او بيا د نوي جوړ شوي وزارت (د کليو د پراختيا) د وزير حنيف اتمر له‌خوا پلی شو.

د ملي پيوستون دا پروګرام تراوسه د افغانستان تر ټولو لويه پروژه او يا پروګرام دی. په دغه پروګرام کې دوو افغاني دودونو ته چې جرګې (شوراګانې) او اشر دی، ځای ورکړل شو.

په بنسټيزه توګه د ملي پيوستون پروګرام دوې بنيادي موخې درلودې: لومړی؛ د ټولنې په کچه د حکومتي بنيادونو غښتلي کول. دويم؛ له هغو سيمه‌ييزو پروژو ملاتړ، چې د بېلابېلو سيمو د شوراګانو له‌خوا تنظيمېږي او له کبله يې ټولنيزو، توليدي او نورو بنسټيزو خدماتو ته د يوې سيمې د خلکو لاسرسی پيدا کېږي.

ملي پيوستون پروګرام په ۲۰۰۳ کال کې پيل او له درېيو پړاوونو په تېرېدلو سره په ۲۰۱۷ کال کې وتړل شو. لومړی پړاو يې د ۲۰۰۳ کال له مې مياشتې څخه پيل او د ۲۰۰۷ کال په مارچ کې پای ته ورسېد. دويم پړاو

[1] د آزادی راديو راپور، د کليو د پراختيا وزارت: ۱۳۹۵ کال کې مو څه باندې ۹زره پروژې پلې کړې، پرليکه بڼه:
http://pa.azadiradio.com/a/28364735.html

يې د ۲۰۰۷ کال په اپريل کې پيل او د ۲۰۱۱ کال په سپټمبر کې پای ته ورسېد او درېيم پړاو يې بيا د ۲۰۱۱ کال په اکتوبر مياشت کې پيل او د ۲۰۱۷ کال په فبروری کې پای ته ورسېد[2].

د ملي پيوستون پروګرام په دغو دريو پړاوونو کې ۸٦ زره پروژې عملي شوې، چې تر ۱٫۵ مليارد ډالرو پورې لګښتونه پرې راغلل. دغه لګښتونه تر ډېره نړيوال بانک او د انګلستان، ډنمارک، کاناډا او امريکا د نړيوالې پراختيا ادارو ورکړي دي. دغه راز د جرمنيانو دوو ادارو (GTZ) او (DAI) هم په دغه پروګرام کې د مشورتي ادارو په توګه برخه لرله[3].

## آيا د "ملي پيوستون" موخې ترلاسه شوې؟

د ملي پيوستون د دوو مهمو موخو ترڅنګ، چې پورته يې يادونه وشوه، څلور مهمې برخې په لاندې ډول دي:

1. د کليو د پراختيايي شوراګانو جوړونه؛
2. د کليو د پراختيايي شوراګانو وړتياوې زياتول، په تېره بيا په سيمه‌ييزه حکومتولۍ او پرمختيا کې؛
3. د دغو شوراګانو له‌خوا په نښه شوو، لومړيتوب‌لرونکو او اداره شوو پروژو ته فنډ ورکول؛
4. د کليو پراختيايي شوراګانې له حکومتي او غيرحکومتي ادارو او ډونرانو سره نښلول، ترڅو وسايلو او خدماتو ته د دوی لاسرسی پياوړی شي.[4]

که چېرې د ملي پيوستون دغو موخو ته ځير شو، نو څرګندېږي چې د ملي پيوستون پروګرام تر ډېره خپلې موخې ترلاسه کړې؛ ځکه د ۱۳۹۵ کال تر پای پورې:

- ۳۵۰۷۵ شوراګانې د ټاکنو له لارې جوړې شوې؛
- له ۳۴۲۵۵ شوراګانوسر ه مرستې شوې؛
- ۸۵۹۱۸ پروژې بشپړې شوې؛

---

[2] وګورئ د ملي پيوستون پروګرام رسمي وېب‌پاڼه:
http://www.nspafghanistan.org/default.aspx?sel=183

[3] په دې تړاو د افغانستان د ارزونې او څېړنې اداري تحليل ولولئ:
https://areu.org.af/wp-content/uploads/2015/12/530E-Fine-Tuning-the-NSP-WP-print.pdf

[4] په دې تړاو وګورئ د ملي پيوستون رسمي وېب‌پاڼه:
http://www.nspafghanistan.org/default.aspx?sel=183

- او تقریباً ۲۹۸۳٦۵ تنه نارینه او ۱۵۱۷٦۴ تنه ښځینه د دغو شوراګانو غړي دي[5].

دغه راز د ترانسپورت، د اوبو څښلو څاه‌ګانو او اوبو ساتلو، د اوبو کانالونو/کاریزونو، برېښنا (ډیزلي؛ د برېښنا مزي؛ شمسي او د اوبو)، سواد زده‌کړې او حرفوي زده‌کړو او په نورو برخو کې پروژې پلې شوې، چې په تفصیلي توګه په لاندې برخه کې اشاره ورته شوې ده.

## پر هېواد د ملي پیوستون د پروژو اغېزې

که د هېواد وروستۍ یوې‌نیمې لسیزې ته ځیر شو، نو څرګندېږي چې افغانستان په دغه پړاو کې د بېخبناوو، ترانسپورت، ښوونې او روزنې، روغتیا، خدماتو ته د لاسرسي، لوړو او مسلکي زده‌کړو، رسنیزو چارو، مخابراتو او یو شمېر نورو برخو کې پرمختګ کړی. د دغې پرمختیا په یو شمېر برخو کې د ملي پیوستون پروګرام د افغانستان د وروستۍ یوې‌نیمې لسیزې په پرمختیا کې جوت رول لوبولی دی.

دا چې په ځانګړې توګه د ملي پیوستون پروګرام د هېواد پر وضعیت او په تېره بیا اقتصاد څه اغېزه ښندلې، لاندې یې یادونه کوو (ډېری ارقام د ۲۰۱۳ کال تر پیل پورې دي):

- **د ټولنې په دېموکراتیک کولو کې رول؛** د ملي پیوستون د پروژې له کبله شونې شوه، چې په هېواد کې د کلو په کچه پرمختیایي شوراګانې د ټاکنو له لارې رامنځته شي او بیا دا شوراګانې د خپلو کلیو لومړیتوب ته په کتلو سره داسې فرعي پروژې په نښه کړي، چې ګټه یې دوی ته تر ټولو زیاته ورسېږي. د همدې تګلارې له کبله شونې شوه، چې ۳۵۰۷۵ شوراګانې جوړې شي. دغو شوراګانو ۴۵۰۱۲۹ تنه غړي درلودل (۲۹۸۳٦۵ تنه نارینه او ۱۵۱۷٦۴ تنه ښځینه). د دغو شوراګانو د لومړیتوبونو او د پروژو په نښه کولو له کبله شونې شوه، چې د هېواد د ۳۴ ولایتونو په ۳۸۰ ولسوالیو کې پروژې پلې شي. په دغو پروژو کې په دومره پراخه کچه د خلکو ګډون او څارنه د ځایي ټولنو حکومتولۍ کې مثبت رول لولباوه او شاید همدا لامل به وي، چې د حکومت د نورو پروژو په پرتله د ملي پیوستون په پروګرام کې کم اداري فساد لیدل کېږي.

[5] په دې تړاو د ملي پیوستون پروګرام رسمي وېبپاڼه وګورئ:
http://www.nspafghanistan.org/default.aspx?sel=194

- **ترانسپورت؛** د ملي پیوستون د پروګرام له مخې، په هېواد کې تقریباً د درېیمې درجې سړکونو ۹٦٥٦ پروژې پلې شوې، چې ۲۰۱ میلیون ډالره لګښت پرې راغلی او په ټوله کې په ټول هېواد کې تقریباً ۵۳ زره کیلومتره سړکونه جوړ شوي. دغه راز تر سړکونو لاندې ویالو او پلونو ۴۴۷۲ پروژې چې ۵٦ میلیون ډالره لګښت پرې راغی، پلې شوې. د دې ترڅنګ د ترانسپورت په برخه کې ۲٦۳۲ نورې پروژې چې ۴٦ میلیون ډالره لګښت پرې راغلی هم پلې شوې دي. په ټوله کې د ترانسپورت په برخه کې ۱٦۷٦۰ پروژې پلې شوې، چې شاوخوا ۳۰۳ میلیون ډالره لګښت پرې راغلی دی.
- **انرژي؛** د انرژۍ په برخه کې هم کابو ۷۳۲۷ پروژې پلې شوې، چې په دغو پروژو شاوخوا ۱٦۳ میلیون ډالره لګښت راغلی. د انرژۍ په برخه کې تر ټولو زیاتې پروژې او لګښتونه د اوبو پر برېښنا (۲۴۱۷ پروژې د ٦۱ میلیون ډالره په لګښت)، شمسي (۲۲۷۰ پروژې د ۴۹ میلیون ډالره په لګښت او ترڅنګ يې شاوخوا سل زره برېښنايي او د سولر دستګاوې نصب شوې) ډيزلي ( ۱٦۸۰ پروژې د ۳۰ میلیون ډالره په لګښت)، د برېښنا مزي (۹۲۹ پروژې د ۲۳ میلیون ډالره په لګښت) او نورې وې.
- **روغتیا؛** د روغتیا په برخه کې یو شمېر کلینیکونه جوړ شول او د ۲۰۱۳ کال تر پیل پورې تقریباً د اوبو څښلو ۸۸۹۷ پروژې پلې شوې، چې ۱۰۳ میلیون ډالره لګښت پرې راغلی و. د افغانستان د کلیو د پراختیا وزیر نصیراحمد دراني په اند په تېرو څوارلسو کلونو کې د ملي بیوستون له لارې پاکو اوبو ته د لاسرسي په موخه شاوخوا یو لک څاه‌ګان وکېندل شول.
- **ښوونه او روزنه؛** د افغان وزیر نصیراحمد دراني په اند، د ملي پیوستون له لارې په ټول هېواد کې تقریباً ٦۰ زره تدریسي ټولګي جوړ شوي. همدا راز د ۲۰۱۳ کال تر پیل پورې د ښوونځیو د ودانۍ د بېلابېلو برخو جوړونې په موخه ۹٦٦ پروژې عملي شوې، چې ۲۷ میلیون ډالره لګښت يې درلود. دغه راز د حرفوي زده‌کړو په موخه د ملي پیوستون له لارې ۴۱۳٦ پروژې عملي شوې، چې په دغو بیا ۱۱ میلیون ډالره لګښت راغلی دی.
- **زراعت؛** زراعت د افغانستان د اقتصاد د ملا تیر حیثیت لري. په دې برخه کې هم د ملي پیوستون له لارې یو شمېر پروژې پلې شوې دي. د بېلګې په توګه د ژورو څاه‌ګانو ۱۰۴۰ پروژې د ۱۸ میلیون ډالرو په لګښت، د اوبو ساتلو ۱۵٦۸ پروژې د ۲۵ میلیون ډالرو په لګښت، د اوبو رسونې شبکې ۲۷۴۳ پروژې د ٦۲ میلیون ډالرو په لګښت، د کانالونو/کاریزونو جوړولو ۵۷۲۷ پروژې د ۹٦ میلیون ډالره په

لګښت، د اوبو د وړو بندونو په موخه ۱۱۸٦ پروژې د ۱۹ میلیون ډالرو په لګښت او دغه راز د استنادي دیوالونو جوړونې ۴۰۰۴ پروژې هم د ۷۰ میلیون ډالرو په لګښت پلې شوې.

که په لنډه توګه د ملي پیوستون پروګرام وارزوو، نو د دغه پروګرام له لارې ډېرو خلکو ته په لنډمهاله توګه د کارونو پیدا کېدو زمینه مساعده شوې، په هېواد کې په مختلفو ډګرونو کې بېلابېلې پروژې عملي شوې، چې اغېزې يې هر اړخيزې نه وې، بلکې تر ډېره تر ځايي ټولنو پورې محدودې وې.

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.